# د ظهـــــورافکار آموزشـــی مرکـــز

# پشــــــــــــتو

## د کانکورچمتوالی لپاره

پښتویه

بدیع او بیان

د ادب تاریخ

او د کانکور مهم ټکي

# پښويه (ګرامر)

**پښويه:** هغه اصول اوقواعد چې د ژبې داخلي جوړښت تشريح کوي پښويه بلل کيږي يا په بل عبارت هغه اصول او قواعد چه مونږ ته سم ويل، سم ليکل اوسم لوستلورازده کوي. هغه پښويه ده.

**ژبه:** په لنډه توګه ويلای شو، چې ژبه د پوهولو او راپوهولو وسيله ده. يعنی مونږ د ژبه په وسيله پوهيږواوپوهوو.

## د پښتوالفباتوري

په پښتوژبه کې دوه څلويښت(۴۲) توري شتون لري.چې په لاندې ډول ښودل کيږی.چې بی له عربي توري (۳۰) دانه کيږي.

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| الف | ب | پ | ت | ټ | ث | ج | چ | ځ |
| څ | ح | خ | د | ډ | ذ | ر | ز | ړ |
| ږ | ژ | س | ش | ښ | ص | ض | ط | ظ |
| ع | غ | ف | ق | ک | ګ | ل | م | ن |
| ڼ | و | هـ | ه | ء | ی | | | |

## سوچه پښتوتوري

له دغوتوروڅخه اته (۸) توري يې سوچه پښتوتوري دي. چې دغې توري يوازې په پښتوژبه ده . چې په نورو ژبوکې شتون نلری اوپه لاندې ډول ښودل کيږي.

ټ څ ځ ډ ړ ږ ښ ڼ

لکه:ټال، ټبر، څادر، څپلی، ځوان، ځای، ډار، ډنګر، ړوند، ږمنځ، ږيره، ښار، ښاروالی، اتڼ، رڼا...

## لس عربي مستعارتوري

په پښتوژبه کې لس عربي توري د مستعارپه ډول راوړل کيږی. چې پښتوالفباتوري بشپړوی، چې په لاندې ډول ښودل کيږی.

ث ح ذ ص ض ط ظ ع ف ق

# مرستندوی غږونه

کومکي غږونه په پښتوژبه کې پردوه ډوله دي. یوډول یې خوځندي اوبل ډول یې توري دي. مونږتول اصلی توري د دغوتورو او غږونو په واسله ویلای شو. دا ځکه چې اصلی یاچوپ توري بی د کومکې توري ویل نه کیږی.

**۱- خوځندي(حرکتونه):** عبارت له هغوحرکتونوڅخه دی چې یوتوري په حرکت راوړی.اوپه لاندې ډول دي.

**الف ـ زور:** هغه ده چې یوتوري په حرکت راولی اوآوازیې په پورته خواته بیایی. لکه:لَو، کندَو، غَر...

چې (ل،ډ،غ) زورلری اوآوازیې په پورته ځواته دی.

**ب ـ زورکی:** هغه ده چې یوتوري په حرکت راولي اود یومایل کرښه په بڼه لیکل کیږی. لکه:شل، وچ، مچ...

**ج ـ زیر:** هغه ده چې یوتوري په حرکت راولي او آوازیې په ښکته خواته بیایی. لکه:عاقِل، فاضِل، وِیر...

چې (ق،ض،و) زیرلری اوآوازیې په ښکته خواته کړي دي.

**د ـ پیښ:** هغه ده چې یوتوری په حرکت راولی اوآوازیې د یوکوچنۍ واوغوندې کوی.لکه:ګل،تجاهل،ګوند...

چې (ګ،هـ،ګ) پیښ لری اوآوازیې د واوغوندې دی.

**چ – غږوندی ( سکون) :** پنځوس ، درلود ...

**خچ:** عبارت د آوازد فشارڅخه ده چې په ځینې تورو باندې راوړل کیږی.او د هغه په معنی کې بدلون راوړی.

لکه:غوټه یا غوټه ، او داسې نور...

**۲- مرستندوی توري:** مرستدوی توري په پښتوژبه کې څلورتوري دي.چې عبارت دي له:

۱- الف. ۲- واو. ۳- ه. ۴- ی

**۱- الف:** دغه توری د کلمې په منځ، پای او اول کې راځی.

لکه: اند ، انا ، ژړا ، نیا ، لار، پلار او داسې نور...

**۲- واو:** واوپه پښتوژبه کې پر**څلور**ډوله دي.

**الف- نرم واو:** هغه واوته وایې چې د مځه توری یې زورولری او نرم ویل کیږي.

لکه:پلو،لـــو،کنـــــډو او داسې نور...

**ب ـ څرګندواو:** هغه ته وایې چې دمخه توری یې څرګنداودروند پیښ ولري.

لکه:چاقو،زانګو، تالو او داسې نور...

**ج- اوږد واو:** هغه واوته وايي چې اوږد اونرم ويل کيږي.او د مخه توری يې اوږد پيښ ولری.

لکه: مُور، اُور، زانګو، پښتو اوداسي نور...

**د- کوچنی واو:** هغه واو ته وايې چې د مخه توری يې سپک اولنډ پيښ ولری.

لکه: لومړی ، تاسو، پوښتنه او داسي نور...

## ۳- (ی) : ي په پښتو ژبه کې پرپنځه ډوله ده.

**الف - نرم (ی):** هغه ي ته وايي چې د مخه توری يې زور ولری او نرم ويل کيږي.او د کلمې په منځ او پای کې راځي.

- د کلمې په منځ کې دوه ټکي ځنګ په ځنګ اېښودل کيږي. لکه: ليلا ، خير، پيل او داسي نور...
- د کلمې په پای کې د ساده ي په ځيرليکل کيږی چې بله کومه نښه نلری. لکه: ښوونکی ، ټولګی...

**د کارولو له پلوه:** نرم(ی) يوازې د مفرد مذکر نومونوپه پای کې راځې . لکه: بريالی، زلمی...

**نوټ**: نرم (ی) تل پاس (پورته) تلفظ کيږی. لکه: بريالَی، زمری، ليلا، خير او داسي نور...

**ب- ځرګند (ي) :** هغه ي ته وايي چې د مخه توری يې ځرګند زيرولری او د کلمې په منځ او پای کې راځي. لکه:

- د کلمې په منځ کې د نرم ی په ځير ليکل کيږی او دوه ټکي ځنګ په ځنګ اېښودل کيږی.

لکه:سپين ، شين،سريزه او داسي نور...

- د کلمې په پای کې د نرم ی په ځير ليکل کيږی او لاندې يې دوه ټکي خوا په خوا اېښودل کيږی.

لکه: سړي ، موچي ، دوبي او داسې نور...

**د کارولو له په پلوه ځرګند(ي):**

- د جمع مذکرنومونو په پای کې راځي. لکه: سړي ، ښوونکي ، منګي او داسې نور...
- د مذکر د نسبتي ستاينومونولپاره راځي. لکه: موچي ، دوبي ، کرزي او داسي نور...
- د مفرد ښځينه نومونوته راځي. لکه: دوستي ، بياتي ، ښادي او داسې نور...

**نوټ:**ځرګند (ي) تل لاندې (دروند) ويل کيږی. لکه: ښادي ، ځير، سړي او داسي نور...

**ج - زورکی واله (ئ) :** هغه ئ ته وايي چې د مخه توری يې زورکی ولری، او يوازې د کلمې په پای کې راځي. لکه: هګئ ، کرکئ ، نجلئ ، مانئ او داسې نور...

**د کارولو له پلوه**: زورکی واله ئ يوازي د مفرد مونث نومونو په پای کې راځي.

لکه: نجلئ ، تورپيکئ ، منګئ او داسي نور...

- زورکې واله ي تل پاس تلفظ کیږی. لکه: نجلی ، تورپیکی ، منګی او داسې نور...

**د - اوږد (ې) :** هغه ي ته وايي چې د مخه توری یې اوږد زیر ولری ، او د کلمې په منځ او پای کې راځي .

د کلمې په منځ کې د نرم ي په بڼه کیکل کیږی او دوه ټکي لاندې په لاندې اېښودل کیږي.

لکه: اېښودل ، هېر، تېر دوداسې نور...

د کلمې په پای کې نرم ي په بڼه کیکل کیږی او دوه ټکي لاندې په لاندې اېښودل کیږي.

لکه: لاندې ، خونې ، لوبې ، کوټې اوداسې نور...

**د کارولو له پلوه (ې):**

- د جمعې د ښځینه نومونو(بې سا) ته راځي.

لکه: خونې ، کوټې ، کتابچې ، پاڼې او داسې نور...

**ه - امریه (ئ) :** د ا ئ ډیری ود امر پر مهال استعمالیږي، او تل د ښځینه او نارینه د جمعو او د افعالو په پای ګې راځي .

لکه: ودریږئ ، ولاړسئ ، ولولئ اوداسې نور...

## ۳- (ه): ه په پښتو ژبه کې پر دوه ډوله ده:

**- الف: څرګند او لوی ه :** هغه ده چې څرګند ویل کیږی ، او د مخه توري یې زور ولری .

لکه: پاڼه ، کتابچه ، پڼه ، لښته او داسې نور...

**د کارولو له پلوه:** څرګند ه یوازې د مفرد ښځینه نومونو په پای کې راځي .

لکه: ښځه ، پېغله ، پاڼه ، کتابچه ، پڼه او داسې نور...

**ب: کوچنی ه :** هغه ه ته وايي چې ورو ویل کیږی او د محه توری یې زورکی ولری .

لکه: پسه ، زړه ، نیکه او داسې نور...

د کارولو له پلوه: دا ه یوازې د مفرد مذکر نومونو په پای کې راځي .

لکه: پسه ، زړه ، نیکه او داسې نور...

## مورفيم ( کليمه ) يا د کلام توکي يا د کلمي ډولونه

**کلمه**: هغه لفظ چې د يوې معنی د افادې لپاره له خولې څخه راوځي ، هغه کلمه ده.

يا په بل عبارت يو معنی لرونکي لفظ ته کلمه وايي.

**د کليمه ډولونه :**

**سربلونه او ستر بلونه :**

هغه ګردانيدونکي مقيد مورفيمونه دي چې په خپلواکه توګه معنا نه لري مګر له خپلواکه مستقل کليمو سره يو ځای يو مانا افاده کوي.

**الف : سربلونه ( پشينه ها ) :** هغه بی مانا توري دي چې د نوم په مخه راځي او د هغه دريځ په جمله کې معلوموي. لکه : په ، له ، تر ، پر، د ، بې ، و ...

**اوستر بلونه ( پسينه ها) :** هغه ادات دي چې ديو نوم ، فقره يا جمله وروسته راځي . لکه : کې ، سره ، پورې پسي ، باندې لپاره ، لاندې ، ته ، څخه ، وروسته ، پرته ...

<u>تر</u> ماښام <u>وروسته</u> راځم. زه <u>په</u> کوټه <u>کې</u> يم.

**تاړي( وندونه)**

هغه تړلي او مقيد مورفيمونه دي چي له ازوادو کليمو سره پيوست راځي او هغو معنا معلوم کيږي.

او په دوه ډوله دي:

**۱- مختاړي( پيشوند) :** دکليمه به سر کې راځي او دا هم په دوه ډوله دي : صرفی او کلمه جوړونکی مختاړي.

الف : صرفی مختاړي : د نهی او نفی په مهال کې راځي لکه : <u>مه</u> خوره **!** <u>نه</u> وينم ...

**ب :** کلمه جوړونکی مختاړي : لکه : پرې ، بې ، ننه ، در ، خوا، هم ... بی فکره ، راځم ...

**۲ – روستاړی( پسوند ها ) :** دکليمه په آخر کې راځي او بيا په دوه ډوله دي :

الف : صرفی : چې د فعل په آخر کې راځي او د هغه شخص څرګندوي. لکه :

| | | | |
|---|---|---|---|
| م | راځم | مفرد متکلم | زه راځم |
| ې | خورې | مفرد مخاطب | ته خورې |
| و | خوړو | جمع متکلم | موږ خوړو |

ئ خورئ جمع مخاطب ......

ی خوری مفرد مذکر غاییبب

ه راغلله مفرد مونث غاییب

ل راغلل جمع مذکر غایب

ې راغللې جمع مونث لپاره

د کلام توکي په لاندې دول دي .

**۱- نوم ، ۲- نومځري ، ۳- فعل ، ۴- ستاینوم ، ۵- قیدونه ، ۶- ادات**

## ۱- نوم :

**نوم :** هغه کلمه ده چې پرته د زماني ښودلو څخه خپلواکه معنی ولری ، او د ځای ، شی او شخصو د نومولو لپاره کارول کیږی.

لکه : کابل ، احمد ، کتاب ، څوکی او داسې نور...

**۲- نومځري:** هغه لفظ چې د نوم ځای ونیسي او د هغه د تکرار څخه مخنوی وکړي ، نومځري ویل کیږی .

لکه : دی ، زه ، هغه ، دوی ، هغوی ، دا ، دې اوداسې نور...

**۳- فعل :** هغه کلمه ده چې د زماني په دخالت سره خپلواکه معنی ولری ، او یو فعل یا چار په یوه وخت څرګند کړی.

لکه : خورم ، وخوړ ، به خورم ، ځم ، لاړ، ځم به او داسې نور...

**۴- ستاینوم :** ستاینوم یا صفت د نوم حالت او څرنګوالي بیانوي.

لکه : سپین ، غټ ، خوښ ، غمجن او داسې نور...

**۵- قید** : هغه کلمه ده چې پر فعل ، صفت او یا بل قید باندې ورزیاتیږی ، او د هغو معنی مقید کوی .

لکه : عبدالوکیل یو ډیر هوښیار هلک دی ، چې په دغه جمله کې ډیر قید ده د هوښیار لپاره،

ژرژر ، ورو ورو ، نن ، پرون اوداسې نور...



EMF

**۶- ادات :** هغه کلمه ده چې په خپلواکه ډول معنی نلري او د نومونو او فعلونو سره کارول کیږی.

لکه : له ، تر ، د ، څخه ، کې ، ترڅو، پورې او داسې نور...

مثال : له کابل څخه تر بامیان پورې یو ساعت لاره ده .

ته دلته ترڅو وخت یې .

# نوم د معنا له مخې

**نوم د معنی له مخې په پنځه ډوله دی .**

**۱- خاص نوم ، ۲- عام نوم ، ۳- د جمعیت نوم ، ۴- د جنس نوم ، ۵- مجرد نوم**

**۱- خاص نوم :** هغه نوم دی چې د خاص شی ، خاص ځای او خاص شخصو باندې دلالت کوی .

د اشخاصو خاص نوم دري ډولونه لري.

الف – **تخلص :** لنډ نوم دی چې شاعران ، لیکوالان اوځینې نور خلک د ځان لپاره ټاکي .

لکه : رښتین ، رشاد ، الفت ، بارکزي او داسې نور...

**ب - محض نوم :** هغه نوم دی چې د زیږیدنې په وخت یو چا باندې اښودل کیږی .

لکه : احمد ، کریم ، سپین ګل ، توریالی او داسې نور...

**ج – لقب :** هغه ده چې د یو صفت یا خصوصیت له مخې د درناوې په توګه چاته ورکړ کیږی .

لکه : احمد شا بابا ، نازو انا ، بابا مزاري ، زرغونه انا او داسې نور...

**۲- عام نوم :** هغه نوم دی چې د یو عام شی ، عام شخص او عام ځای باندې دلالت وکړی .

لکه : سړی ، غوښه ، هنداره ، نندارتون ، کتاب اوداسې نور...

**نوټ :** که چیرې له عام نوم نه مخکې اشاري ضمیرونه راوړل شي د خاص نوم معنا ورکوي .

دغه کتاب ، هغه نندارتون ، دا کتابچه او داسې نور...

**۳- د جمعیت نوم :** هغه نوم دی چې په لفظ کې مفرد وی او په معنا د یو جمعیت معنی راکوي .

لکه : لښکر ، ولس ، جرګه ، رمه او داسې نور...

**نوټ :** د جمعیت نوم لومړی جمع نلری او د ډیرو جمعیتونو په اعتبارجمع کیږي .

لګه : لښکرې ، ولسونه ، جرګې ، رمې او داسې نور...

**۴- د جنس نوم :** هغه نوم دی چې د اشیا او اجسام باندې اېښودل کیږی ، او دغه نوم دوه ډولونه لري .

**الف :** هغه ده چې قابل د شمارش دی . لکه : میز، قلم ، کتاب ، تخته او داسې نور...

**ب :** هغه ده چې قابل د شمارش نه دی . لکه : اوبه ، تیل ، غنم او داسې نور...

**۵- د معنی یا مجرد نوم :** هغه نوم دی چې په سترګو نه لیدل کیږی ، یعنی مادي وجود نلري .
لکه : عقل ، پوه ، ویره اوداسې نور...

## نوم د جوړښت له مخې

**په پښتو ژبه کې نوم د جوړښت له مخې په دوه ډوله دی .**

**الف – ساده نوم :** هغه نوم ته وایي چې یو مفرد کلمه وي او ترکیبي توکي ونلري .

لکه : اور ، کابل ، لاس ، مڼه اړ داسې نور...

**ب : مرکب نوم :** هغه نوم ته وایي چې ترکیبي توکي ولري یعنې مفرد نه وي .

لکه : اورګاډي ، لاس ماغو ، دشت برچي ، پښتون خوا او داسې نور...

## مذکراو مونث (ښځینه او نارینه)

ټول نومونه په پښتو ژبه کې د جنسیت له مخې پر دوه ډوله دي (نارینه او ښځینه) چې دغه دواړه ځینې نښې او علامې لري چې یو د بل څخه توپیرکیږي چې په لاندې ډول ښودل کیږي.

**الف – د نارینه نوم نښې :** کوم نومونه او صفتونه چې په پای کې یې دغې توري راغلی وي نارینه نوم کڼل کیږی .

**۱-** څرګند واو : لکه : تالو ، باړخو ، مانو ، لاس ماغو او داسې نور...

**۲-** نرم (ی) : لکه : زلمی ، توریالی ، منګی ، نوی ، تږی ، وږی او داسې نور...

**۳-** کوچنی (ه) : لکه : زړه ، تره ، نیکه ، وراره او داسې نور...

**۴-** نرم واو : لکه : پلو ، کنډو ، نو او داسې نور...

۵- هغه ټول نومونه چې په پای کې یې اصلي توري راغلی وي او سماعي مونث نه وي مذکرنوم کڼل کیږي . لکه : مل ، کتاب ، اور ، قلم او داسې نور...

**نوټ :** څرګند (ي) د نسبتي ستاینومونو په پای کې د مذکر نښی کڼل کیږی .

**لکه :** دوبي ، کرزي ، کابلي ، موچي او داسې نور ..

**ب – د ښځینه نوم نښې :** کوم نومونه او صفتونه چې په دغې توري ختم شوی وي . ښځینه نوم او صفت کڼل کیږي .



EMF

۱- اوږد واو ې : لکه : ښارو ، پيشو ، راديو ، زانکو او داسې نور...

۲- اوږد (ې) : لکه : ادې ، ناوې ، ملکرې او داسې نور...

۳- څرګند (ي) : لکه : دښمني ، دوستي ، ښادي او داسې نور...

۴- څرګند (هـ) : لکه : ښځه ، اسپه ، پوښتنه ، کتابچه او داسي او داسې نور...

۵- الف : لکه : خندا ، ليلا ، مسنا ، ژړا او داسې نور...

**نوټ :** الف د بی سا نومونو په پای کې د ښځينه نوم نښی ګڼل کيږي ، کنه نو د نارينه نومونو په پای کې هم راتلی شي . لکه :

**ښځينه نومونه لکه :** ليلا ، مسکا ، ژړا ، خندا ، زيبا او داسې نور...

**نارينه نومونه لکه :** زړه ، تره ، نيکه ، وراره او داسې نور...

## د مونث (ښځينه) نوم ډولونه

پښتو ژبه ښځينه نوم پر څلور ډولونو ويشل کيږي :

۱- حقيقي لفظي مونث (ساکښ نښوال) **:** هغه ده چې د يو ساکښ نوم وي او د تانيث نښه هم پکې وي . لکه : چرګه ، ښځه ، پيغله ، ادې او داسې نور...

۲- غير حقيقي لفظي مونث (بی سا نښوال) : هغه ده چې د بی سا شيانو نوم وي او د تانيث نښه پکې وي .
لکه : څوکی ، غرمه ، ژړا ، پاڼه ، رڼا او داسې نور...

۳- حقيقي غير لفظي مونث (ساکښ بې نښې) : هغه ده چې ساکښ وی ليکن د تانيث نښه نه وي ، چې دې ډول مونث ته معنوي مونث هم وايي .
لکه : مور ، خور ، نږور ، ترور او داسې نور...

۴- غير لفظي غير حقيقي مونث (بې سا بې نښې) : هغه ته وايی چې د بی سا شيانو نوم وي او د تانيث نښه هم پکې نه وي ، چې دې ډول مونث ته سماعي مونث هم وايي .
لکه : مياشت ، ږمنځ ، برستن، لار ، ميچن ، ستن ، ورځ ، لمن ، غيږ ، وريځ ...

## مفــــــــرد او جمـــــــع

نوم د شميراو کميت له مخه پر دوه ډوله دي ( مفرد او جمع) :

**مفرد :** هغه ده چې له یوه کلمه څخه جوړشوی وي او ترکیبي توکي ونلري .
لکه : کتاب ، ونه ، لاس ، برچي ، سړی او داسې نور...

**جمع :** هغه ده چې پر یوه نه بلکې زیاتو شیانو باندې دلالت وکړي .
لکه : کتابچې ، ونې ، لاس ماغو ، ، سړي او داسې نور...

# د نوم د جمع کولو قاعدې

په پښتو ژبه کې جمع نومونه د مفرد نوم څخه د ځینې نښې په راوړلو جوړیږي .

**د نارینه نوم د جمعې کولو قاعدې :** د مفرد مذکرنومونو په پای کې د دغو نښې په راوړلو جمع کیږي (ي ، ګان ، یان ، ان ، ونه) .

۱- هر مفرد مذکرنوم اوصفت چې په نرم (ی) ختم شوی وي ، دغه نرم (ی) په څرګند (ي) بدلیږي او جمع ترینه جوړیږي .لکه :

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| ستوری | ستوري | بریالی | بریالي |
| اغزی | اعزي | تږی | تږي |
| منګی | منګي | نوی | نوي |

**نوټ:** په دغسې نومونو کې ساکښ (جاندار) نومونه ، صفتونه او نسبتي صفتونه د مفرد په پای کې د (ان) په زیاتولو هم جمع کیږي . لکه :

**مفرد:** خوریی ، غویی ، کابلی ، کندهاری ...

**جمع:** خورییان ، غوییان ، کابلیان ، کندهاریان...

۲- کوم صفتونه چې په منځ کې یې ساکن واو او ساکن ی وي ، دغه (واو) او (ی) په الف بدلیږی او په پای کی یې یو کوچنۍ (ه) زیاتیږي او جمع ترینه جوړیږي .لکه :

مفرد : پښتون ، ړوند ، روڼ ، سوړ موړ، تریخ ، پوخ ، زوړ، شپون ، کوڼ ، او داسې نور...

جمع : پښتانه ، ړانده ، راڼه ، ساړه ، ماړه، تراخه ، پاخه ، زاړه ، شپانه ، کاڼه او داسې نور...

۳- ساکښ نومونه او صفتونه چې په پای کې یې څرګند (ي) راغلي وي د (ان) په زیاتولو جمع کیږي . لکه :

مفرد : دوبي ، موچي ، ښادي ، او داسې نور...

جمـع : دوبیان ، موچیان ، ښادیان ، او داسې نور...

۴- کوم نومونه او صفتونه چې په څرګند (ه) ، الف او څرګند (واو) ختم شوی وي ، د (ګان) په زیاولو جمع کیږي . لکه :

مفرد : ساده ، کچالو ، باڼخو ، ماما او داسې نور...

جمع : ساده ګان ، کچالوګان ، باڼخوګان ، ماماګان او داسې نور...

**نوټ :** د الف په نومونو کې ځینې په (یان) او د واو په نومونوځینې په (ان) هم جمع کوي .

**لکه :** مفرد : آشنا ، ملا ، کلا ، پېتو ، خیټو او داسې نور...

جمـع : آشنایان ، ملایان ، پېتوان ، خیټوان او داسې نور...

۵- ځینې یوه توریز او یو څپه ایز صفتونه د کرچنی (ه) په زیاتولو هم جمع کیږي .
لکه : مفرد : مل ، مړ ، اوم ، غل ، شین، اوږد ، سور خر او داسې نور...
جمـع : مله ، مړه ، اومه ، غله، شینه ، اوږده ، سره ، خره او داسې نور...

۶- کوم نومونه او صفتونه چې په اصلي توري ختم شوی وي که ساکښ وی د (ان) او که بی سا وی د (ونه) په زیاتولو جمع کیږي . لکه :

| ساکښ | | بی سا | |
|---|---|---|---|
| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| اوښ | اوښان | لغت | لغتونه |
| چرګ | چرګان | موټر | موټرونه |
| مین | مینان | کور | کورونه |

۷ – هغه مذکر نومونه چې په ( ه) ختم شي، ه حذف او ( ونه) اضافه کیږي.

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تره | ترونه | وراره | وریرونه | پسه | پسونه | زړه | زړونه |

**د ښځینه د جمع کولوقاعدې :** د مفرد مونث نوم څخه د دغو روستاړو په راوړلو کې جمع جوړیږي :

۱- هغه مونث نومونه چې په څرګند (هـ) ختم شوی وي دغه (هـ) په اوږد (ې) بدلیږي او جمع ترینه جوړیږي . لکه :

مفرد : پاڼه ، ګټه ، پخه ، پښه ، چرګه ، ژبه او داسې نور...

جمع : پاڼې ، ګټې ، پخې ، پښې ، چرګې ، ژبې اودا سې نور...

**یادونه:** ټول سماعي مونثات هم د اوږد (ې) په زیاتولو جمع کیږي .لکه :

مفرد : لار ، ورځ ، لمن ، میاشت او داسي نور...

جمع : لارې ، ورځې ، لمنې ، میاشتې او داسط نور...

۲- کوم مونث نوم چې په اوږد واو او الف ختم شوي وي د (ګانې) په زیاتولو جمع کیږي .

لکه : مفرد : زانګو ، پیشو ، ورشو ، رڼا ، غوا او داسي نور...

جمع : زانګوګانې ، پیشوګانې ، ورشوګانې ، رڼاګانې ،غواګانې او داسې نور...

**نوټ :** ځیني پښتانه د الف نومونه د (وې) په راوړلو هم جمع کوي .

لکه : مفرد : انا ، ژړا ، رڼا ، غوا ...

جمع : اناوې ، ژړاوې ، رڼاوې ، غواوې ...

۳- کوم ساکښ نومونه چې په زورکی واله (ۍ) ختم شوی وي د (ګانې) او کوم بي سا نومونه چې په څرګنده (ي) ختم شوي وي دغه (ي) په زورکی واله (ۍ) بدلیږي او جمع ترینه جوړیږي . لکه :

| ساکښ | | بی ساه | |
|---|---|---|---|
| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| مامۍ | مامۍ ګانې | دوستي | دوستۍ |
| بوډۍ | بوډۍ ګانې | ښادۍ | ښادۍ |
| کاکۍ | کاکۍ ګانې | وداني | ودانۍ |

۴- کوم مونث نومونه چې په اوږد (ې) ختم شوی وی که پوهمن وي د (انې) او په بی ساه شیانو او عمومي صفاتو نو جمع نه لری بلکه په خپله بڼه راځي . لکه :

| پوهمن | | نا پوهمن | |
|---|---|---|---|
| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| ناوې | ناویانې | ورغومې | ورغومې |
| خواښې | خواښیانې | تلونکې | تلونکې |

۵- د شریکو او نسبتي صفاتو ښځینه جمع د نارینه جمع څخه د (ې) په زیاتولو جمع کیږي .

لکه : مذکرجمع : کابلیان ، موچیان ، کولالان ، ساده ګان او داسې نور...

مونث جمع : کابلیانې ، موچیانې ، کولالانې ، سادګانې او داسې نور...

۶- د معنوي مونثاتو جمع د دغو قاعدې لاندې نه راځي بلکه بی قاعدې دي . لکه :

مفرد : مور ، خور ، نږور، ترور ، یور ، تندار، ورندار ، نجلۍ ، لور...

جمع : مېندې ، خوېندې ، نږېندې ، ترېندې ، يونې ، تنداري ، ورنداري ، نجونې ، لونې ...

## د نوم حالتونه

په پښتو ژبه کې نوم **دوه** حالتونه لري ، يعني **معنوي** او **لفظي** حالتونه.

**۱- معنوي حالت :** د نوم مشهور معنوي حالتونه څلوردي چې په لاندې ډول اېښودل کيږي.

**۱- فاعلي حالت :** کوم نوم چې په جمله کې فاعل (د چارکوونکی) واقع شي يا ورپوري تړلی وي ، دغه حالت ته فاعلي حالت وايي .

لکه : احمد بازارته ځي ، کريم ډوډۍ خوري ، محمود خط ليکي او داسې نور...

**۲- مفعولي حالت :** که کوم په يوه جمله کې مفعول (پوکاروربانديې وشي) واقع شي ، دغه حالت ته مفعولي حالت لري .

لکه : احمد بازارته ځي ، کريم ډوډۍ خوري ، محمود خط ليکي او داسې نور...

**۳- ندايي حالت :** که چيرې يو نوم باندې ندا او يا غږ وشي ، نو دغه حالت ته ندايي حالت وايي.

لکه : ای وروره ، ای خورې ، ای مورې ، احمده او داسې نور...

**۴- ارتباطي حالت :** که چيرې يو نوم د ارتباط له اداتو سره استعمال شي ، نو دغه حالت ته ارتباطي حالت وايي.

لکه : احمد بازارته ځي ، زه له زمری سره خبرې کوم ، تورپيکۍ ته کتاب ورکړه ...

**نوټ :** که چيرې دوه نومونو د (د) په واسطه يو بل سره ارتباط پيدا کړي ،نو هغه وخت ورته اظافي ارتباط وايي، په اظافي ارتباط لومړی مضاف اليه او ور پسې مضاف راځي .

لکه : د احمد کتاب ، د کابل ښار ، د افغانستان خلک...

او که مضاف اليه د (مې ، دې ، مو،يې) نومځري سره راشي نو مضاف د مخه راځي او مضاف اليه وروسته راځي .

لکه : کتاب مې راکه ، قلم دې واخيست ، آس مو چيري دی ، کتاب يې ورکړه او داسې نور...

**۲- لفظي حالت :** د نوم لفظي حالتونه په روسته ډول ښودل کيږي .

۱- هغه نومونه چې په نرم ی ختم شوی وي ، په ندايي حالت کې مفتوح راځي ، او فتحه يې په ه لکل کيږی . په ارتباطي او فاعلي حالتونو کې د جمعې په شکل راځي ، او په نورو حالتونو کې په اصلي بڼه راځي .لکه :

| ندايي حالت | ارتباطي حالت | فاعلي حالت | مفعولي حالت |
|---|---|---|---|
| ای زلميه ! | په منګي اوبه نشته | زلمي کارکوي | زه موټروهلم |
| ای محموده ! | زه زلمي سره خبرې کوم | بريالي ډوډۍ خوري | احمد بريالی باندې کارکوی |

EMF

۲- هغه معنوي مونثات چې په صحیح توری ختم شوی وي په ندایي حالت کې مفتوح راځي او فتحه يې په اوږد (ې) راځي ، او په ارتباطي حالت د (له ، بې ،تر) له اداتو سره مفتوح راځي چې فتحه يې په (ه) لیکل کیږي او په نورو حالتونو کې په اصلي حالت کې راځي .

لکه : ندایي حـــالت : ای مورې ، ای خورې ، ای ترورې ، ای نږورې او داسې نور...

**ارتباطي حالت :** بې موره ژوند کول ډیر ګران دی ، له موره بل څوک ګران نشته ، دی تر موره ورسوه او داسې نور...

**فاعلي حالت :** مور مې کار کوي ، خور راته ووایاست ، ترور مې ډوډۍ خورې او داسې نور...

**مفعولي حالت :** احمد مور ته وایي ، نجلۍ د نږور لاسونو باندې نکریز ږدي اوداسې نور...

۳ – سماعي مونثات چې په څرګند (ه) او څرکند (ي) ختم شوي وي ، په ندایي ، ارتباطي او فاعلي حالتونو کې د جمع په بڼه راځي . لکه : ندایي حالت : ای میرمنې ، ای دوستی ، ای ښادی او داسې نور...
ارتباطي حالت : انځرګل د خپل مېرمنې سره لاړ، بې دوستۍ ښخه ژوند کول ډیر ګران ده ...

**فاعلي حالت :** دښمنۍ ډې کورونه وران کړل ، میرمنې ډوډۍ پخه کړه او داسې نور...

۴- کوم نومونه چې په اصلي توري ختم شوی وي او جمع يې په (ان ، ونه) کیږي ، په ندایي حالت مفتوح راځي چې فتحه يې په (ه) کیږي او په نورو حالتونو کې په اصلي بڼه راځي . لکه :

ندایي حالت : ای هلکه ، ای وروره ، ای کوره ، ای ځوانه او داسې نور...

فاعلي حالت : ورور مې کار کوی ، ځوانان لوبې کوي ، کورونه د خلک ښخه ساتنه کوي ...

مفعولي حالت : احمد لغتونوباندې کارکوي ، پلار خپل هلکان وهي او داسې نور...

ارتباطي حالت : موږ کورونه جوړو ، پلار خپل هلکان وهي او داسې نور...

۵- هغه صفتونه چې په منځ کې يې (و) وي ، په ندایي حالت کې مفتوح راځي او په نورو حالتونوکې د جمع په بڼه راځي . لکه : ندایي حالت : ای توره ، ای زوړه ، ای لویه او داسې نور...

ارتباطي حالت : زه د پښتانه سره ډیره مینه لرم ، کریم د تورې سړي سره مینه نلری ...

فاعلي حالت : پښتانه تل زیار باسي ، زوړي سړي کار نشي کولي او داسې نور...

مفعولي حالت : زلمی د زوړي سړي باندې کار نکوی ، افغانستان پښتانه باندې حق لری ...

ندايي حالت : ای پښتانه ، ای توري ، ای زوړي هلک او داسي نور...

۶ – هغه اسم جنس او جمع مذکر چې په صحيح حرف ختم وي په ټول حالتونو کې يوازې په پای کې کوچنۍ واو زياتيږي . لکه :

ندايي حالت : ا ی ځوانانو ، ای هلکانو ، ای اوښانو ...

فاعلي حالت : دغو ځوانانو ډير کارونه وکړ، هلکانو لوست وايي ...

مفعولي حالت : ښوونکی هلکانو باندې لوست ولوست ، هېواد خپل ځوانانو باندې واړي ...

ارتباطي حالت : د غنمو بيه څنګه دي ، د اوښانو بارونه درونده دي ...

## د پـــردو لغتونـــو قـــاعدې

هر ژبه د نورو ژبو لغتونو ته اړ ده چې ورته راځي او هغه ژبه بشپړ کوي ، نو په پښتو ژبه کې هم ځيني د عربي او د نورو ژبولغتونو راننوتي دي چې دغه ټول لغتونه د يوې قاعدې لاندې راځي ، چې په وروسته ډول ښودل کيږي .

۱- هغه عربي او دري لفظونه چې په څرګند (ي) ، اوږد واو او په (الف ، ه) ختم شوي وي .

نو دغو ته مونث لفظونه وايي . لکه :

**ګفتګو -** ډيره ګفتګو مو سره وکړه ، ګفتګو ډير ښه ده ...

**مثنوي -** ما يو ډير ښايسته مثنوي ليکی ده ...

**دانشګا -** دانشګا د علم ځای ده ، د کابل دانشګا ډير ښه دانشګا ده ...

۲- هغه عربي مصدرونه او لغتونه چې په (الف ، ه ، ع ، ح) په پښتو کې مونث استعمال کيږي .

لکه : **تفريح** - دوی ښه تفريح وکړه ، تفريح کول ډير ښه کارده ...

**ابتدا -** اوس د کار ابتدا ده ، د هر کار ابتدا د خدای په نامه بايد وشي ...

**اطلاع** - نوی اطلاع مو تر لاسه کړه ...

**مفاهمه -** په هر کار کي مفاهمه ښه ده ...

۳- د عربي ټول هغه مصدرونه چې په اصلي توری ختم شوي وي ، نو ورته مذکر کليمي وايي .

لکه : **اعتدال -** اعتدال په هر کار ډير ښه دی ...

**تعصب** ـ تعصب بد کار دی ...

**موټر** - موټر مو درولی دی ...

۴- ټول عربي صفات چې په اصلي توري ختم شوي وي د (ه) په زياتولو ورڅخه ښځينه جوړيږي . لکه :
مذکر : خدمتګار ، مالدار ، عاقل ، فاضل ...

مونث : خدمتګاره ، مالداره ، عاقله ، فاضله ...

۵- هغه عربي مصدرونه اوکلمې چې په (ه) ختم او کوم نومونه چې په (ع،ح) مفتوح شوی وي .

نو د اوړد (ې) په زياتولو جمع کيږي . لکه :

مفرد : مناظره ، معامله ، طمع ، ذبح ، قبح ...

جمع : مناظرې ، معاملې ، طمعې ، ذبحې ، قبحې ...

۶- کوم دري او يا عربي مصدرونه چې په الف ختم شوي وي نو د (ګانې ، وې) په زياتولو جمع کيږي .

لکه :  مفرد : التحا ، دعا ، اشتها ، ادعا ...

جمع : التحاګانې ، دعاوې ، اشتهاګانې ، ادعاګانې ...

۷- کوم نومونه چې په (ح ، ع) ختم شوي وي او د مخه يې (الف ، واو، ی ) راغلي وي او کوم نومونه چې په څرګند (ي) عتم شوی وي نو دغه ټول نومونه د (ګانې) په زياتولو جمع کيږي . لکه :

مفرد : اطلاع ، ارزو ، اختراع ، موضوع ، رباعي ، مثنوي ...

جمع : اطلاع ګانې ، ارزوګانې ، اختراع ګانې ، موضوع ګانې ، رباعي ګانې ، مثنوي ګانې ...

۸- کوم عربي مصدرونه چې په صحيح توري ختم شوي وي ، ساکښ يې د (ان) او بې سا يې د (ونه) په راوړلو جمع ګيږي . لکه :

| ســــــاکښ | | بې ســاه | |
|---|---|---|---|
| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| قاتل | قاتلان | انقلاب | انقلابونه |
| فاضل | فاضلان | انعام | انعامونه |
| عاقل | عاقلان | علم | علمونه |

EMF

۹- د ټول عربي جمعو په پای کې يې په ارتباطي ، ندايي ، فاعلي او مفعولي حالتونو کې د کوچنی واو په زياتولو جوړيږي . لکه :

ارتباطي حالت : مطالبوته ښه فکر کول ضروري ده . مفعولي حالت : زه مطالبو باندې کارکوم .

فاعلي حالت : حوادثو او واقعاتو وډاردلم .

ندايي حالت : ای فتحو تل اوسي !

۱۰- کوم عربي نونه چې په (ه ، ح ، ع) ختم شوي وي په څلور واړو حالتونوکې د (ې) سره مفتوح کيږي .

لکه : فاعلي حالت : مباحثې ستړی کړم .

مفعولي حالت : مونږ مباحثې وکړه .

ندايي حــالت : ای فتحې تل اوسې .

ارتباطي حالت : د فتحې په وخت خوشحالی ډير دي ؟.

نوټ : که چيري عربي مصدرونه او عربي نومونه د جمع په شکل کارول شي نو په پښتو ژبه د جمع مذکر حکم لري . لکه : موضوعات ، مطالب ، اطلاعات ...

# ضمـــــــــــــــير( نومځری)

ضمير هغه کلمه ده چې د نوم پر ځاي راّځي او د نوم له تکرار څخه مخنيوی کوي .

ضميرونه په پښتو کې په اوه ډوله دي چې په لاندې ډول ښودل کيږي .

۱-شخصي ضميرونه ۲-ملکي يا اضافي ضميرونه ۳-اشاري ضميرونه ۴-استفهامي ضميرونه ۵-پلوي يا قيدي ضميرونه ۶-مبهم ضميرونه ۷-اشتراکي ضميرونه .

۱-شخصی ضميرونه: هغه ضميرونه دي چې پر يو معين شخص ،متکلم ،مخاطب او غايب باندې دلالت کوي .

شخصی ضميرونه د استعمال له مخې په دوه برخو ويشل کيږي .

الف: غښتلي (قوي)منفصل ضميرونه

ب:کمزوري(ملکي)ناخپلواک ضميرونه

الف:غښتلي (قوي)منفصل ضميرونه: هغو ضميرونه ته ويل کيږي چې په خپلواکه توګه معنا لري .

د شخصي ضمايرو مفرده بڼه اصلي او غير اصلي حالت لري خو جمع يې د دواړو حالاتو لپاره يو شان راځی چې په لاندې ډول ښودل کيږي .

| اشخاص | مفرد | | جمع |
|---|---|---|---|
| ۱ | اصلی حالت | غیر اصلی | اصلی حالت |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | زه | | ما | مونږ |
| ۲ | ته | | تا | تاسي |
| ۳ | نارینه | دي | ده | دوي |
| | ښځینه | دا | دې | دوی |

**ب:کمزوري(ملکي ناخپلواک)ضمیرونه:** هغو ضمیرونه ته ویل کیږي چې په خپلواک توګه معنا نه ورکوی او کله چې د یو نوم سره استعمال شي خپل مفهوم او معنا په ډاګه کوي.

| شخص | مفرد | جمع |
|---|---|---|
| ۱ | مې(قلم مې راکړه) | مو(قلمونه مو واخستل) |
| ۲ | دې(قلم دې راکړه) | مو(کتابچې مو راکړئ) |
| ۳ | یې(قلم یې راکړه) | یې(قلمونه یې واخستل) |

**۲-ملکي یا اضافي ضمیرونه:** هغه ضمیرونه دي چې د یو شي ملکیت او متعلقیت ښیي چې په لاندې ډول ښودل کیږي.

| اشخاص | | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| ۱ | زما | | زمونږ |
| ۲ | ستا | | ستاسې |
| ۳ | نارینه | دده | ددوی |
| | | دهغه | دهغوی |
| | ښځینه | ددې | ددوی |
| | | دهغې | دهغوی |

**۳-اشاري ضمیرونه:** هغه ضمیرونه دي چې اشخاصو او څیزونو ته اشاره کوي

اشاري ضمیرونه د شخص ،عدد او حالت سربیره د دریم وکړي لپاره دواټن (فاصله )له مخې ګردانیږي .

| اشخاص | واټن | مفرد | | | جمع | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | (فاصله) | جنس | اصلی حالت | غیراصلی | اصلی حالت | جمع حالت |
| ۱ | لنډ | مذکر | دغه | دغه | دغه | دغو |
| | | مونث | دغه | دغې | دغه | دغو |
| ۲ | لر | مذکر | هغه | هغه | هغه | هغو |
| | | مونث | هغه | هغې | هغه | هغو |
| ۳ | لا لری | مذکر | هوغه | هوغه | هغه | هوغو |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | مونث | هوغه | هوغې | هوغه | هوغو |

**۴-استفهامي ضميرونه:** غه ضميرونه ته ويل کيږی چې يوې پوښتنې لپاره په کارلويږي چې د شخص،زمان،ځای څرنګوالي اوڅومره والي له مخې لاندې ډولونه لري او ځنې يي د حالت او جنس له مخې اوړون مومي.

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | څوک(چا) | څوک راغلی دی؟ چا سبق ولوست |
| ۲ | کوم(کومه) | کوم دې پکاردی؟کومه نجلی لايقه ده |
| ۳ | کله | کله درس لولې؟ |
| ۴ | څنګه | څنګه راغلې؟ |
| ۵ | څه | څه شي وچېچلې؟ |
| ۶ | څو | څو داني اخلې؟ |
| ۷ | څومره | څومره اخلې؟ |
| ۸ | ولې | ولې درس نه وايې؟ |

**۵-پلوي يا قيدي ضميرونه:** هغه ضميرونه دي چې فعل او سمت د اشخاصو له پلوه ښيي او درې بنې لري.چې هميشه دفعل په سرکې واقع کيږی.

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | را | راځم،راواخله |
| ۲ | در | درځم،درواخله |
| ۳ | ور | ورځم،ورواخله |

**۶-مبهم ضميرونه:**هغه ضميرونوته ويل کيږي چې ديو نامعين شي يا شخص لپاره راځي،چې دجنس اوحالت له مخې اوړون مومي.

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | هر | هرکتاب،هره کتابچه،هرې پيغلې |
| ۲ | بل | بل کتاب،بله کتابچه،بلې پيغلې |
| ۳ | نور | نورهلکان،نوره برخه،نورې پيغلې |
| ۴ | ټول | ټول هلکان،ټوله برخه،ټولې پيغلې |

**۷-اشتراکي ضمير:** دا ضمير په پښتو کې يو دانه دي،ځکه اشتراکي ضمير ورته وايي چې دلومړي،دوهم او دريم شخص مفرد او جمع لپاره يو شان استعماليږي چې دجنس له مخې اوړون مومي.

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | خپل | خپل درس دې لوله،شپون خپله رمه پيايي |

## صفت (ســــتاينــــــــــــــــوم)

صفت هغې کليمې ته وايي چې ديوه نوم حالت،کيفيت او څرنګوالې بيانوي.

صفات په پښتو کې په اوه ډوله دي.چې په لاندې ډول ښودل کیږي.

۱-اصلي صفتونه ۲-نسبتی صفتونه ۳-اشاری صفتونه

۴-عددي صفتونه ۵-استفهامي صفتونه ۶-فعلي صفتونه ۷-مجرد صفتونه

**۱-اصلي صفت:** هغه صفت دي چې د یوه نوم اصلي ښه والي او بد والي بیانوي لکه: ښه سړي،مشر سړي په پورته عبارتونو کي ښه،بد،مشر اصلي صفتونه دي.

اصلي صفات عبارت دي له

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ښه | سور | خپل | روغ | زوړ |
| بد | غټ | پردی | جوړ | ټیټ |
| تور | لوی | لوڅ | تړی | لوړ |
| سپین | نری | مړ | موړ | جګ |
| خړ | پوخ | ژوندی | سوړ | اوچت |
| پلن | لنډ | ارت | سړ | |

**۲-نسبتي صفت:** هغه صفت ته ویل کیږي چې یو نوم ته یي نسبت شوي وي لکه په لاندني جدول کې

| | | |
|---|---|---|
| کندهاري | یوسف زي | کورني |
| سلیمان خیل | او داسې نور | |

**۳-اشاري صفت:** هغه صفت ته ویل کیږي چې د هغو په واسطه یونوم ته اښاره وشي او هغه ته ځانګړتیا ورکړي لکه:

-دغه کورتۍ دې په څو روپۍ ګنډلې ده.

-دغه باغ د انګورو خوږه دي.

پورته جملو کې دغه ،دغه صفتونه او کورتۍ ،باغ موصوف دي .

**۴-عددی صفت :**هغه صفت ته ویل کیږي چې د هغه په واسطه د یو شي شمیر او اندازه معلومیږي او معدود هم ورسره راغلی وي لکه:دوه لاسونه ،دوې سترګې او داسې نور.

په پورته عباراتو کي دوه ، دوې عددی صفتونه او لاسونه ،سترګې معدود دي.

:دوه ،درې ،څلور او داسې نور .

او که چیرې په رتبه او درجه دلالت وکړي نو رتبي عدد ورته ویل کیږي لکه :څلورم ،پنځم ،شپږم او داسې نور .

**۵-استفهامي صفت:**هغه صفت ویل کیږي چې د پوښتنې په وخت کې استعمالیږي او موصوف هم ورسره راغلي وي لکه:

-څومره غنم دې په کار دي؟

-کوم هلک پوه دی؟



EMF

په پورته جملوکې څومره،کوم پوښتني ضميرونه او غنم،هلک موصوف دي.

۶-فعلي صفتونه: هغه صفت دي چې د نورو چې د فعل او کولو معنا هم په کې وي او د نورو صفاتو په شان د يو نوم حال او شان هم بيان کړي.

فعلي صفات پر دوه دوله دي.

الف-فاعلي

ب-مفعولي

**الف-فاعلي:** هغه صفتونو ته ويل کيږي چې د فاعل حالت بيانوي لکه:

پالونکی،تلونکی

**ب-مفعولي:** هغه صفتونوته ويل کيږي چې د مفعول حالت بيانوي لکه:

ساتلی،ليکلی،تللی

۷-**مجردصفتونه:** هغه صفت ته وايي چې په خارج کې کوم مادي وجود ونه لري اوخالي وصف او حالت ترې مراديږي لکه:

ليونتوب،هوښيارتوب،روغتيا

په ښتو کې مجرد وصف جوړولو لپاره د اسم او صفت په اخر کې ځنې وروستاړي يو ځای کيږي او مجرد وصفونه ترې جوړيږي چې ځنې مشهور ورستاړي عبارت له(توب،تيا،والي او ي) څخه

-سړی+ توب = سړيتوب،ليونتوب،مينتوب او داسې نور

-روغ + تيا = روغتيا ، ټينګتيا ، لوړتيا او داسې نور

ښه + والی = ښه والی ، بد والی

ژوند +ی = ژوندی ، انډيوالی

**د صفت او موصوف ګردانې سمون( مطابقت)**

صفت او موصوف په عمومي توګه په لاندې دريو ډلو تقسيم کيږي.

**۱ –** هغه صفتونه چې له خپل موصوف سره د نارينه جنس د شمير له مخې سمون نه لري، خو د ښځينه جنس له موصوف سره پوره سمون لري . کله :

| نارينه مذکر | | ښځينه مونث | |
|---|---|---|---|
| ( مفرد) | ډير ګړي ( جمع) | (مفرد ) | (جمع) |
| سپين قلم | سپين قلمونه | سپينه کتابچه | سپينې کتابچه |
| تور قلم | تور قلمونه | توره کتابچه | تورې کتابچه |
| ښه سړی | ښه سړي | ښه نجلی | ښې نجونې |

| | | | |
|---|---|---|---|
| بد سړی | بد سړي | بده نجلۍ | بدې نجونې |

**۲ ـــ** هغه ډله ستاینومونه چې د نارینه جنس او ښځینه جنس د شمیر له مخې له خپل موصوف سره پوره سمون لري. لکه :

| **نارینه مذکر** | | **ښځینه مونث** | |
|---|---|---|---|
| ( مفرد) | ډیر ګړي ( جمع) | (مفرد ) | (جمع) |
| سور آس | سره آسونه | سره اسپه | سرې اسپې |
| شین بڼ | شینه بڼونه | شینه بڼه | شنې لمنې |
| پوخ ختکی | پاخه ختکي | اومه هندوانه | اومې هندوانې |

**۳ ـــ** ځینی شریک صفات دی چې له خپل موصوف سره د جنس او عدد له پلوه سمون نه ښیي.

| نارینه مذکر | | ښځینه مونث | |
|---|---|---|---|
| ( مفرد) | ډیر ګړي ( جمع) | (مفرد ) | (جمع) |
| سادهه هلک | ساده هلکان | ساده نجلۍ | ساده نجونې |
| پیاده هلک | پیاده هلکان | پیاده هلکان | پیاده نجونې |
| آشنا هلک | آشنا هلکان | آشنا نجلۍ | آشنا نجونې |

# مصدر(زیږندنه)

**مصدر:** هغه خپلواک او معنی لرونکي کلمې ته وایي چې پرته د زماني ښودلو څخه یو کار او چار ښیي او کوم زمانه ترې نه ښکاریږي . لکه : ساتل ، وتل ، غورځول ، ګرځیدل ، پاڅیدل ، ژړیدل ...

په پښتو کې مصدر د لفظ او آخر په لحاظ لاندې ډولونه لري :

۱- **لام** والا - لکه : وهل ، ساتل ، تلل ، ختل ، ژړل  او داسې نور...

۲- **ول** والا ـــ لکه  غورځول ، ماتول ، تودول ، خنډول ، الوزول  او داسې نور...

۳- **یدل** والا ـــ لکه : ګرځیدل ، مړیدل ، پاڅیدل ، ماتیدل  او داسې نور...

۴- **کیدل** والا ـــ لکه : پرې کیدل ، وهل کیدل ، پورته کیدل  او داسې نور...

۵- **کول** والا ـــ لکه : پورته کول ، پرې کول ، پخلا کول  او داسې نور...

# د مصدر معنوي ډولونه

د مصدر معنوي ډولونه درې دي ( لازمي مصدر، متعدي مصدر ، متعدي مجهول) :

۱- **لازمي مصدر:** هغه ده چې فعل يې په فاعل تماميږي . لکه : ګرځيدل ، لاړل ، ژړيدل ...

۲- **متعدي مصدر**: هغه ده چې فعل يې هم فاعل او هم مفعول ته اړتيا لري .

لکه : زه ډوډئ خورم ، زه خط ليکم ، هغه کار کوی ...

۳- **متعدي مجهول :** هغه ته وايي چې فاعل يې معلوم نه وي .

لکه : زما وهل به ګران تماميږي ، احمد ووهل شو ...

## مصدر د اشتقاق په لحاظ

**مصدر د اشتقاق په لحاظ په دري ډوله دي :**

**۱- تغير نه منونکي مصدرونه :**

هغه مصدرونه چې د حاليه افعالو په ډله کې خپله اصلي ماده ساتي او کوم اساسي بدلون پکې نه راځي تغيرنه منونکي مصدرونه دي . لکه : (منل ، ساتل) چې د حال څخه مستقبل يې بې تغيره جوړيږي ، چې مثالونه يې بې لاندې ډول ښودل کيږي :

| حال | مستقبل | امر | ماضي استمراري | فعلي صفت |
|---|---|---|---|---|
| منم | وبه منم | ومنه | مانه | منلی |
| ساتم | وبه ساتم | وساته | ساته | ساتلی |

**۲- قانوني تغير منونکي مصدرونه :**

هغه مصدرونه دي چې د حاليه افعالو په اصلي ماده يې د يوې قاعدې سره سم پکې بدلون راځي .

لکه : (وتل ، تلل) چې د حال په فعل کې يې (ت) په (ځ) بدليږي چې مثالونه يې په لاندې ډول کې ښودل کيږي

| حال | مستقبل | امر | استمراري ماضي | |
|---|---|---|---|---|
| وځم | وځم به | وځه | وبه ځم | (وتل) |
| ځم | ځم به | ځه | به ځم | (تلل) |

**۳- بې قانونه تغير منونکي مصدرونه :**

هغه مصدرونه دي چې په حاليه افعالو کې بې د کوم قانون او قاعدې څخه پکې بدلون راځي .

چې دغسې افعال په پښتو ډير لږ دي . چې مثالونه يې په لاندې ډول دي :

(ختل ، نښتل ، موندل ، وژل ، ليدل ، کتل) چې د حال فعلونه يې په لاندې ډول راځي :

(خيژم ، نښلم ، مومم ، وژنم ، ګورم ، وينم)

**نوټ :** په پښتو ژبه کې ټول مصدرونه د جمع مذکر حکم لري ، او ټول افعال او صفات د ادات له تورو سره د جمع په بڼه ليکل کيږي . لکه :

ليدل مو سره وشول ، د ډير خوړل څخه ځان پرهيز کړئ ، لامبو وهل ډير ګټه لري ...

## فعل د خپل انواعوسره

**فعل :** هغه کلمه ده چې د يو کار په کولو او يا کيدلو دلالت کوي .

لکه : وايي ، وويل ، وبه وايي ، راغله ، راغی ، را به شي ...

**فعل د معنی له مخې :** فعل د معنی په لحاظ په لازمي ، متعدي ، معلوم ، مجهول ،مثبت او منفي باندې ويشل کيږي :

**۱- لازمي فعل :** هغه ته وايي چې يوازي په فاعل تماميږي . لکه : پاڅيده ، کښيناست ، وخوت ...

**۲- متعدي فعل :** هغه ته وايي چې په فاعل ، مفعول ته هم اړتيا لري .

لکه : زلمی کتاب لولي ، احمد کار کوي ، تورپيکی خبرې کوي ...

**۳- معلوم او مجهول فعل :** که چيرې په يو جمله کې د هغه فاعل معلوم وي ، معلوم او که مجهول وي نو مجهول فعل ورته وايي . لکه : معلوم : زلمی کتاب لولي ، احمد کار کوي ، تورپيکی خبرې کوي

مجهول : احمد وهل کيږي ، حميد تړل شوی دی ...

**۴- د امر فعل :** هغه کلمه ده چې د هغه په واسطه د يو کار په کولو حکم کيږي .

لکه : وګوره ! ، وکړه ! ، وليکه ! مه کوه ! ...

### فعل د زماني په لحاظ درې حالتونه لري :

**۱- حال** : لکه :- هغه کار کوی ، زه ډوډۍ خورم ، احمد لوست وايي ...

**۲- مستقبل (راتلونکې) :** لکه :- هغه به کار کوی ، زه به ډوډۍ خورم ، احمد به لوست وايي ...

**۳- تيره : لکه :-** هغه کار وکړ ، ما خط وليکه ، احمد لوست ولوست ...

**د حال فعل :** هغه ته وايي چې په موجوده زمانه کې د يو کار په کولو دلالت کوي .

لکه : کوی ، راځي ، خورې ، ګورې ، ليکي او داسې نور...

**حال په پښتو کې په درې ډوله دي :**

**۱- استمراري حال :** هغه فعل ته وايي چې د هغه فاعل د استمرار په حالت کې وي .

لکه : اورم – د مفرد متکم لپاره : لکه : - زه ستا خبره اورم .

اورو – د جمع متکم لپاره : لکه :- مونږ ستا خبره اورو .

اورې – د مفرد مخاطب لپاره : لکه :- ته زما خبره اورې .

ا وري – د غايب د ټولو صيغو لپاره : لکه :- دی زما خبره اوري ، دا زما خبره اوري ،

هغوی زما خبره اوري ، دې زما هبره اوري ...

**۲- مطلق حال :** هغه فعل ته وايي چې په موجوده زمانه کې په مطلق ډول د يو کار په کولو دلالت کوي .

لکه : زه واورم ، ته واوره ، هغه واوري ، مونږ واورو ...

**۳- امکاني حال :** هغه ده چې په موجوده زمانه په امکاني ډول د يو کار په کولو دلالت کوي .

امکاني حال د امکاني صفت په پيآی کې د (شول) د امکاني فعل په ګردانولو کې جوړيږي .

لکه : زه ستتا خبره اوريدلای شم ، موږ ستا خبره اوريدلای شو ، ته زما خبره اوريدلای شې ، دی زما خبره اوريدلای شي ، دا زما خبره اوريدلاي شي ...

د (ول والا ، کول والا) مصدرونه په استمراري او امکاني حال د (ل والا) مصدرونو په شان جوړيږي

يعني په اول کې د (ل) پر ځای پيوست نومځري کردانيږي .لکه :

امکاني حال : جوړولای شم ، جوړولای شې ، جوړولای شي ، جوړرلای شو ، جوړولای شئ ...

استمراري حال : جوړوم ، جوړوو ، جوړوې ، جوړوي ، جوړوئ ...

**مستقبل (راتلونکې) :** هغه کلمه ده چې پّ راتلونکې زمانه د يو کار په کولو دلالت کوي . لکه : وبه وايم ، کار به کوم ، جوړ به کړم ...

**مستقبل هم درې ډولونه لري:**

۱- استمراري مستقبل : استمراري مستقبل عيناً د استمراري حال په شان دی ، خو يوازې د اسمتراري په حال کې (به) زياتيږي . لکه :

استمراري حال : ګورم ، ګورو ، ګورې ، ګورئ ، ګوري ...

**استمراري مستقبل :** ګورم به ، ګورو به ، ګورې به ، ګورئ به ، ګوري به ...

**۲- مطلق مستقبل :** د مطلق حال په منځ کې د (به) په زياتولو جوړيږي .

لکه : وبه غواړم ، وبه غواړي ، وبه غواړې ، وبه غواړئ ، و به غواړو ...

**۳- امکاني مستقبل** : د امکاني حال څخه په منځ کې يې د (به) په زياتولو جوړيږي .

لکه : وبه ليدلای شم ، وبه ليدلای شي ، وبه ليدلای شي ، وبه ليدلای

**نوټ :** دغه د مستقبل علامه (به) په جمله کې تل د فاعل سره نغښتي دي .

# ماضي فعل (تيره)

هغه فعل ته وايي چې په تيره زمانه کې د يو کار په کيدلو دلالت وکړي .
لکه : پاڅيد ، ولويد ، وکړ ، راغی ، لاړ او داسې نور...

ماضي فعل په پښتو کې ډير ډولونه لري چې په لاندې ډول ښودل کيږي .

**استمراري ماضي :** هغه فعل ته وايي چې په تير طمانه کې د کار استمرار او دوام وښيي .
استمراري فعل د مصدر څخه د هغه په پای کې د متصل ضميرونو په ګردانولو جوړيږي .
چې اته صيغې لري . لکه (ختل) مصدر چې په لاندې ډول ګردانيږي :

ختلم – د مفرد متکلم لپاره . لکه : زه بام ته ختلم .
ختلو – د جمع متکم لپاره . لکه : موږ بام ته ختلو .
ختلې – د مفرد مخاطب لپاره . لکه : ته بام ته ختلې

خوت – د مفرد مذکر لپاره . لکه : دی بام ته خوت .
ختلئ – د جمع مخاطب لپاره . لکه : تاسې بام ته ختلئ .
ختل – د جمع مذکر لپاره . لکه : دوی بام ته حتل .

ختله – د مفرد مونث لپاره . لکه : دا بام ته ختله .
ختلی – د جمع مونث لپاره . لکه : دوی بام ته ختلی .

**نوټ :** ۱- په متعدي افعالو کې د کاضي ګردان د مفعول په واسطه کيږي .

لکه : ته احمد ليدلې ، مونږ احمد ليدلو ، تاسې احمد ليدلئ ...

استمراري ماضي په پښتو کې تل د مصدر اصلي حالت ساتي (د تغير منونکومصدرونو په شمول)

يعني شکل يې تغير نه کوي او يوازې په پای کې يې متصل ضميرونه ګردانيږي .

**۲- مطلقه ماضي :** هغه ده چې په مطلق ډول په تيره زمانه کې د فعل په کيدلو دلالت کوي .



EMF

مطلقه ماضي د استمراري فعل په سر کې د (و) په زیاتولوجوړیږي . لکه :

زه په بڼ کې وګرځیدم ، مونږ په بڼ کې وګرځیدو، ته په بڼ کې وګرځیدې ، تاسې په بڼ کې وګرځیدئ..

**یادونه :**

۱- د (تلل ، راتلل) مصدرونه بې قاعدې دي چې په مطلقه ماضي کې په (راغی ، ولاړ) کې ګردانیږي .

د (یدل او کیدل والا مصدرونه مطلقه ماضي د (شول) سره جوړیږي .

لکه : جوړشوم ، جوړ شو ، جوړې شوې ، جوړشوئ ، جوړشوه ، جوړ شول ،

د (ول ، کول والا) مصدرونه د فعلي مادي په پای کې د (کړل) سره ګردانیږي .

لکه : جوړ کړم ، جوړ کړو ، جوړ کړی ، جوړې کړې ، جوړکړه ...

**۳- لیرې ماضي :** هغه فعل ته وایې چې په لیرې زمانه کې د کا په کیدلو دلالت وکړي .

لیرې ماضي د فعلي صفت څخه د (وم ، وو ، وئ ، وې ،وه ) په ګردانولو جوړیږي .

لکه : کړی وم ، کړې وې ، کړي وو ، کړی وئ ، کړې وه او داسې نور...

**۴- نیږدې ماضي :** هغه فعل ته وایې چې په په نیږدې ماضي د یو کار په کولو دلالت وکړي .

نیږدې ماضي د فعلي صفت په پای کې د ( یم ، یو ، یې ،یئ ، دی ،ده ، دي) په ګردانولو جوړیږي .

لکه : ختلی یم ، ختلي یو ، ختلې یې ، ختلی یئ ، ختلې ده ، ختلی دی او داسې نور...

**۵- احتمالي ماضي :** هغه ده چې په تیره زمانه کې په احتمالي توګه د یو کار په کولو دلالت وکړي

احتمالي ماضي د فعلي صفت په پای کې د (به یم ، به یې ، به یو ، به یی ، به یي ) په ګردانولو کې جوړیږي . لکه : ښايي کړی به یم ، ګوندې کړي یو ، ښايي کړې به یې ، ګواکي کړی به یئ ...

۶- امکاني ماضـي : هغه فعل ته وايي چې په تیره زمانه کې د چار امکان ښیي ، امکاني ماضي په دوه ډوله ده .

۱- استمراري امکاني ماضي : د فعلي صفت په پای کې د (شوم ، شوو، شوې ، شوئ ، شویي ، ښو ) په ګردانولو کې جوړیږي . لکه : ختلای شوم ، ختلای شوو ترآخره پورې ...

۲- مطلقه امکاني ماضي : هغه ته وایې چې په تیره زمانه کې په مطلق ډول د یو کار په کیدلو کې دلالت وکړي ، او د استمراري امکاني ماضي په سر کې د (و) په زیاتولو کې جوړیږي .

لکه : وختلای شوم ، وختلای شوې ، وختلای شي ...

**۷- تمنايي ماضي :** هغه ته وايي چې په تيره زمانه د يو چار د کولو تمنا کوي ، د فعلي صفت په پای کې د (وای) او په سرکې د (که ، کاشکي ) په واوړلو جوړيږي .

لکه : که درس مې ويلی وای ، کاشکي مې دهغه کار نه کړی وای اوداسې نور...

**۸- تاکيدي ماضي :** هغه ته وايی چې په تيره زمانه د يو کار په کيدلو تاکيد ښاره وکړي ، او له ليرې ماضي څخه د فعلي صفت په پای کې د (به) په زياتولو کې جوړيږي .

لکه : کړی به وي ، تللی به وئ ، تللي به وي اوداسې نور...

## د امر فعل

هغه کلمه ده چې د هغه په واسطه د يو کار په کولو کې امر کيږي .

لکه : وکړه ، مه کوه ، کښينه ، مه ګوره او داسې نور...

حال امر په پښتو کې په دوه ډوله ده .

۱- استمراري : استمراري امر د مصدر په پای کې د (ل) پرځای د مفرد لپاره (ه) او د جمع لپاره (ئ) په زياتولو جوړيږي . لکه : مفرد : ګوره ، کړه ، پاڅيږه او دا سې نور...

جمع : ګورئ ، کړئ ، پاڅيږئ او داسې نور...

۲- مطلقه آمر: د استمراري امر په سر کې د (و) په زياتولو جوړيږي .

لکه : وګوره ، وکړئ ،وپاڅيږئ او داسې نور...

**۶-ادات:** هغه کليمي دي چي په ځانګړې توکو کومه معنا نه لري مګر د فعلونو او نومونو سره د يوې معنا د افاده کولو لپاره استعماليږي.لکه :( د ، له ، ته ، څخه ، کې ، هسې ، او ، ته )چي په لاندي جملو کي راغلي دي.

البته ادات په څلور دوله ده

۱ تشبيه توري ۲ اضافه توري ۳ د عطف توري ۴ د ربط توري

زهرا په سميرا غوندې ده.

د احمد کتاب ورک شوی .

احمد او تميم يو ځای ښوونځی ته ځی .

زه کله کله ښار ته ځم .

## قيــــــدونه( کړول)

هغه ژبني عناصر دي چې د يو فعل د پېښېدني څرنګوالی ،د فعل د پېښېدلو ځای ،مهال ټاکي او يايي څرګندتيا ،ټينګار او داسې نورې ځانګړتياوې ښکاره کوي.

قيدونه په پښتو کې دوه دوله دي الف)ګردانيدونکي قيدونه ب)نه ګردانيدونکي قيدونه .

ګردانيدونکي (غيراصلی )قيدونه:هغه قيدونه دي چې د فعل فاعل يا مفعول لپاره ګردانيږي که لازمي وی د فاعل لپاره او که د متعدي وي د مفعول لپاره ګردانيږي لکه په لاندې بيلګو کې :

احمد دروند دروند ګرځيده .زه سلما پخه پېژنم .

نه ګردانيدونکي (اصلی) قيدونه:هغه قيدونه دي چې د فعل فاعل يا مفعول لپاره نه ګردانيږي .

اصلی قيدونه په پښتو کې لاندې ډولونه لري .

**۱-د زمان قيد :** هغه قيد دي چې د مهال له مخې د يو فعل پيښيدنه څرګندوي لکه :

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اوس | وړمه ورځ | سبا | سباته | سبږکال |
| دمخه | وړمه شپه | نن شپه | بل سبا | پروسږ کال |
| پخوا | پرون ورځ | نن ګهيځ | ګهيځ | وړم کال |

**۲-د ځای قيد:** هغه قيد دی چې د فعل پيښدنه د ځای او چاپيريال له مخې څرګندوي لکه:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| دلته | هورې | مخ ته | پورته | د باندې |
| هلته | مخکې | بيرته | لاندې | اخوا |
| دلې | وروسته | وړاندې | باندې | د يخوا |

**۳ - د شک قيد:** هغه قيد ته ويل کيږي چې د يو فعل د اجراکيدو شک ښکاره کوي لکه:ګوندې راشي ،شايد راشي .

**۴- د علت قيد :** چې د يو فعل علت پوښتي لکه :څله ځې ؟ ولې نه کښيني ؟

**۵-د وضعيت او حالت قيد :** چې د يو فعل څرنګوالی او حالت ښيي لکه :ژرژر راځه ،په منډه منډه ځه .

# پښتو نحوه

نحوه عربي کلمه ده، لغوي معنا يې لاره ، روش او طريقه دی. او په ادبي اصطلاح کې د ګرامر هغه برخه ده چې په جمله کې ده کليمو ترتيب ، مطابقت ، ترکيب او اړيکو په هلکه بحث کوي.

نحوي واحدونه :

په ګرامري معنا او مفهوم کې د يو ژبې تر ټولو کوچنی واحد، چې د تقسيم وړ نه وي تکميم يا نحوي واحد ورته وايي. د مثال په توګه : که ووايو: دغه قلم دی؟ که د همدې سواليه جمله په ځواب کې ويل شی : بلی يا و . په ګرامري لحاظ بشپړه مطلب ادا شو ( بلی يا و ) يو تکميم دی.

**ترکيب:** ترکيب هم د نحوي واحدونه له جملې څخه دی ، چې د جملو په جوړولو کې دير مهم سهم لري. ترکيب د دوو يا زياتو مستقل او نامستقل کليمو ټولګه ده. چې برخي يې يو له بله سره ګرامري اړيکي لري . ترکيبونه لومړی په اسمی او فعلی ډلو ويشل کيږي. د اسمی ترکيبونه اساسی برخه اسم او دد فعلی ترکيبونه اساسی برخه فعل دي.

اسمی ترکيبونه ډير ډولونه لري لکه : اضافی ترکيبونه ، توصيفی ترکيبونه ، قيدی ترکيبونه ، عددی ترکيبونه ، تاکيدی او نور...

**فقره :** فقره هم يو نحوی واحد دی چې د جمله اصلی ارکان ( مبتدا او خبر) دواړه لري خو کله کله چې په نحوي جوړښت کې معنا له مخې د جملې د بلې برخې جز ګرځي او ور پورژ مقيديږي. د مثال په ډول که ووايو: (درس اسان دی). يو خپلواکه ګرامري بڼه ده خو که وويل شي :(درس چې آسان و) په دغه حالت کې د (چې) سره مقيد شوه او بايد بله ګرامري بڼه ورپورې وتړل شي چې مانا يې کامل شي. لکه : (درس چې آسان و شاګردان خوشال کيږي).

**جمله :** جمله عربي کلمه ده چې مانا يې ټولګه يا مجموعه ده ، او په اصطلاح کې د الفاظو او کليمو يو داسي ترکيبب چې يو کامل معنا افاده کړي ، جمله بلل کيږي.

**د جمله جوړښت توکي:** د يو کامل جمله په ساختار کې خپلواک توکي او مرستيال توکي ونډه لري. خپلواکو توکو لکه : نومونه ، صفتونه ، نومځري او نور ... او په کومکي تو کو کې ادات مختاړی ، وروستاړی او داسی نور راځي.

EMF

**د جمله اساسی برخې:** هره جمله دوه اساسی برخه لري : مبتدا اړ خبر

**۱ –** مبتدا ( فاعل یا مسند الیه ) : په جمله کې دهغه په باب خبرې ورکول کیږي .

لکه : علي ډودئ خوري. لمر راوخوت .

**۲ –** خبر ( فعل یا مسند) : دجمله هغه برخه ده چې د مسندالیه په اړه خبرې کوي یا د هغه حال ځرګندوي. خبر د جوړښت له مخې په ساده او مرکب باندې تقسیم کیږي.

**خبر** دوه ډول دی : اسمی او فعلی خبر.

هغه جمله چې د خبر په برخه کې یې پوره فعل یا فعلی ترکیب راغلی وي د فعلي جمله ، او هغه چې مبتدا او خبر دواړه نومونه وي اسمی جمله ورته وایی.

**دجمله ډولونه :** جمله د بنې او ساختار له مخې په **ساده** او **مرکب** او د معنا له مخې په **خبري** او **ناخبري** ډولونو ویینل کیږي.

خبری هغه دي چې د یو څیز حال او کیفیت بیان او ځرګندونې کوي. لکه علی درس وایي.

نا خبری دا لاندې ډولونه لري:

امري، لکه : ودریږئ، ولاړ شئ .

**پوښتنیز جمله** : لکه : ولې درس نه وایې ؟

**تعجبی** : لکه : څومره ښکلی انځور دی !

**تمنایی** : لکه : کاشکی لاړ شم ! کاشکی تللی وای !

**شکي :** لکه : ښایې علی راغلی وي. ګوندې مرسته راسره وکړي.

**ټینګار جمله** : لکه : حتمی ورشه . خامخا راځه .

**قسمیه جمله** : لکه : په خدای چې خبر نه یم ....

**دعاییه جمله** : لکه : خدای وکړی چې باران وریږي.



EMF

## قافیه

قافیه یو عربي کلیمه ده چې په لغت کې شا او عقب مانا لري او په ادبي اصطلاح هغه پوهنه ده چې د شعر د بیتونو د دورونو له ورستیو همغږیو او هم آهنګیو څخه بحث کوي.

دلته لومړۍ د قافیه کلیمې بیا توري ، حرکتونه او ډولونه په مثالونو سره وایو.

**د قافیه کلمې :** هغه کلمه چې د دورونو په پای کې مراعات شوې وي. لکه په لاندې بیت :

مخ دې لکه ګل صنم زلفې دې سنبل صنم

**دقافیه توري :** هغو دي چې لازمه هماهنګي لري اودا توري ( ۹ ) دي :

**(روی ، ردیف ، قید، دتاسیس الف، د خیل یا متغایر توري ، وصل ، خروج، مزید ، نایر)**

یو څو یې ډیر ثروري ده دلته تشریح کوو.

۱- روي : په لغت کې رسۍ ته وایی او د ادبي فنونو کې د قافیه هغه توري دي چې پرته له هغه قافیه نه جوړیږي.

په دریاب څرنګه تر شي کـــام زما چې نسکور لکه حباب دي جـــــام زما

۲- ردیف : په لغت کې یو په بل پسې سپور او دوه پښته وایی،او ادبی فنون کې د قافیو په کلیمو کې لومړۍ هماهنګ توري خپلواک ( الف، و ، ی) توري له روی څخه د مخه راغلی وي ( ردف) بلل کیږي.

لکه په لاندې بیت کې :

یار د یار د جدایۍ پر وخت ګران شي پس له مرګه د سړي قدر عیان شي

شي او شي دلته ردف ( ګران او عیان) د قافیه کلمه دي.

۳ – قید که چیرې د قافیه په کلیمه کې هماهنګي په دوه څنګ په څنګ یې حرکته یا ساکن تورو کې راغلي وي ،لومړی بې حرکته یا ساکن غږ ته قید وایي.

لکه په دې بیت کې :

زه دې د ادا له رنګه هست یمه ځم لکه نکهت په لاره مست یمه

په دې بيت کې ( يمه و يمه ) رديف (هست و مست ) د قافيه کليمې دي خو( س ) توری چې لومړی هماهنگ يا هم غږی ساکن توری دی، ( قيد ) بلل کيږي.

۴ - د تاسيس الف : که چيرې د قافيه په کليمه کې هماهنګه په خپلواک ( الف) توري پيل شوی وی او دغه الف او روی نه مخ کې د خيل يا متغاير توري راغلی وي نو دغه الف ته د تاسيس الف وايي.

خر د سرو زرو د زين نه دی لايق ښه ښيرۍ ولره بويه موافق

په بيت کې د لايق او موافق د قافيه کلمه دي په هماهنګه برخه چې الف خپلواک غږ دي او وروسته ترې د خيل توري راغلی دي، د تاسيس يې بولې.

**د خيل يا متغاير توري :** هغه مخالف توري چې په موسسه قافيه کې د تاسيس الف او روي تر منځ راغلي وي د خيل يا متغاير توري بلل کيږي.

نازنينا که دحسن سخاوت کـــــا له اوله ړا په ما عنايت کـــــا

دلته سخاوت او عنايت د قافيه کليمه او ( کا – کا ) يې ردف دي ( اوت او ايت ) يې هماهنګه برخه ده ( و،ی) چې دتاسيس الف او روی تر منځ موقيعيت لري د خيل يا متغاير توري دي.

**د قافيه حرکتونه :**

دقافيې کلمه ښپږ حرکتونه لري ، چې بيلابيل ځايونه راتلای شي.د قافيه حرکتونه دا دي .

۱ رس ۲ اشباع ۳ حذر۴ توجيه ۵مجری ۶ نفاذ

رس په لغت کژ پيل ته وايي او د ادبی فنونو په اصطلاح کې د تاسيس الف څخه د مخکې توري حرکت ( چې زور دی) بلل کيږي .

لکه ته هسی رقيب په ما غالب دي که سپی دی ستا در زما صاحب دی

په پورته بيت کې غالب او رقيب د قافيه کلمه او ( دی – دی) ردف دي . هماهنګه برخه کې چې د تاسيس له الف څخه د مخه تورو( غ و ص) حرکتونه زورونه دي .(( رس)) بلل کيږي.

۲ – حذر په لغت کې برابر ته وايی. او په اصطلاح کې د قيد او ردف له تو رو څخه د مخه تورو حرکت ته حذر وايل کيږي.

د اشفاق طمعه به څه کړی له اخوانه نتيجه يی ورکيده دي له کنعانه

په دی بیت کې ( اخوانه – کنعان ) د قافیه کلمې دي ، هماهنګه برخه یې ( الف،ن، ه ) ده . له ردف څخه د مخ کې تورو ( و، ع ) حرکتونه چې زورونه دي حذر یې بولي.

**۳ –اشباع:** په لغت کې مړښت ته وایی او په اصطلاح کې د خیل تورو حرکت ته اشباع وایی.

هیڅ مې نه کړه په دا عمر کې حاصل هسې پاتې شوم مردود و نا قابل

په دې بیت کې د قافیه کلمې ( حاصل ـ ناقابل) دي ، الف چې خپلواک غږ او دتاسیس الف دي ( ص ،ب) د تاسیس الف او روی ترمنځ راغلې د خیل توري دي . د همدغو دوو تورو ( ص ، ب ) حرکتونه چې ( زیرونه ) یا کسري دي اشباع بلل کیږي .

**۴ – توجیه :** په لغت کې د یوشی د مخه کولو په معنا ده او په اصطلاح کې د قافیه په کلمو کې دروی له توري څخه د مخه توري حرکت ته توجیه وایي.

ځواني زما شوه دود له غریبه د دلبر سره ځي ډیوه د هوش مې په سلګو شوه له سحر سره ځي

**د قافیه ډولونه :**

**حکمي قافیه** عموما په لنډیو کې رعایت کیږي ، چې د هرې لنډۍ آخر ته باید ( نه و مه ) اهنګ راشي.

زما د لرې وشن یاره رب دې سپوږمۍ کړه چې دې وکړم دیدنونه

**حتمي قافیه :** هغه ده چې د نظم په دوارو نیم بیتو کې داسې کلمې راوړي چې یو بل سره حتمي هماهنګي ولري . دا قافیه د کلیمو د مراعات په لحاظ په دوه ډوله ده